# د افغانستان صدارتي انتخابات

لیک :سلطان عمران ترجمه: احسان الله

په ۲۰ اګست ۲۰۰۹ به په افغانستان کښې صدارتي انتخابات کېږي. د افغانستان موجوده صدر حامد کرزے هم په صدارتي امیدوارانو کښې شامل دے. په دې وخت کښې د افغانستان سیاسي صورتحال دا دے چې دارالحکومت کابل کښې ځائے په ځائے د حامد کرزي لوئي لوئي تصویرونه لګېدلي دي خو عملاً هغه په انتخابي مهم کښې ډېره دلچسپي نۀ اخلي. د یو سرکاري عهدېدار مطابق د رواني میاشتې د صدارتي انتخاباتو په سلسله کښې د حکومت حمایت کونکیو په ټول ملک کښې د پنځوسو نه زیاتې جلسې کړې دي خو په یوه جلسه کښې هم حامد کرزي په خپله شرکت نۀ دے کړے. د افغانستان ټیلي وژن چېنلونو دا تجویز ورکړے ؤ چې د حامد کرزي او د هغۀ د مخالفینو ترمېنځ دې مباحثه نشر کړے شي خو حامد کرزي دا تجویز په دې وینا رد کړو چې د دې دپاره سازګار حالات پکار دي. د حامد کرزي د انتخابي مهم ترجمان



احمد عمر په یو پریس کانفرنس کښې وئیلي دي چې حامد کرزے د مخالفو امیدوارانو سره د بحث و مباحثې نه نۀ ویرېږي خو مونږ په دې خبره ویرېږو چې مخالف امیدواران د بحث و مباحثې په ادابو نۀ پوهېږي او کېدے شي چې دغه بحث و مباحثه د جنګ شکل اختیار کړي. صدارتي ترجمان دا هم وئیل چې حامد کرزے به ډېر زر په انتخابي مهم کښې برخه واخلي. حامد کرزے په الېکشن کښې د کامیابۍ دپاره په قبائلي مشرانو، اهمو کاروباري کسانو او د وړاندینۍ ملېشې کمانډرانو باندې انحصار کوي. بل اړخ ته د امریکې عهدېداران او د انساني حقونو تنظیمونه دا الزام لګوي چې ټول ملک کښې سرکاري عهدېداران انتخابي مهم کامیابېدو دپاره په ناجائزه توګه سرکاري وسائل او اثر و رسوخ استعمالوي. د سیاست نه د باخبره خلقو او اولس دا خیال دے چې حامد کرزے به د کم مقبولیت باوجود په انتخاباتو کښې پنځوس فیصده ووټونه

واخلي، کوم چې د پولنګ په وړومبۍ مرحله کښې د ګټې دپاره ضروري دي خو د یو څو ورځو نه په دې اندازو کښې بدلون راتلل شروع شوي دي چې د حامد کرزي مخالفینو کښې یو کس هم هغهٔ له شکست نهٔ شي ورکولے.

د ځنې سیاسي ماهرینو مطابق کهٔ چرې د پولنګ دویمه مرحله کښې مخالفین متحد شي نو ښه کارکردګي پېش کولې شي. دې سره سره عوام هم د تشدد نه ډکو واقعاتو، معاشي بدحالۍ او د سیاسي پوهې د کمې په وجه د متبادل قیادت په لټون کښې دي. د یو تاجر مطابق کهٔ کرزے د الېکشن په وړومبۍ مرحله کښې ناکامه کېږي نو د هغهٔ د صدر جوړېدو امید به ختم شي. د کرزي مشیران هم په دې خفه دي چې انتخابي مهم صحیح نهٔ دے روان او مخالفین د دهٔ په مقابله کښې ډېر ښهٔ روان دي. د کرزي په لویو مخالفینو کښې پخوانے وزیر خارجه عبدالله عبدالله او پخوانے وزیر خزانه اشرف غني احمدزے شامل دي. د کرزي معاونینو او حمایتیانو په یو میټنګ کښې د سست او غېر منظمه انداز کښې انتخابي مهم چلول، د یوې اهمې علاقې ګورنر عبدالله په پارټۍ کښې د شمولیت، د امریکي سفیر او مخالفینو امیدوارانو په مېنځ کښې رابطو باندې د تشویش اظهار وکړو چې کرزے صاحب ئې هم په ډاګه مذمت کوي. کرزے په دې خبره مطمئن دے چې مخالفین د خپلو کمزوریو او اختلافاتو په وجه په اولسي مرسته حاصلولو


د پېښور په قصه خوانۍ کښې د افغانستان انتخابي پوسترې

کښې ناکامیابه شوي دي. د کرزي په مقابله کښې ځلوېښت امیدواران دي خو په دوي کښې یو کس هم مضبوط سیاسي پس منظر نهٔ لري.

پخوانے وزیر خزانه اشرف غني احمدزے یواځینے صدارتي امیدوار دے چې د ملکي حالاتو په حواله ئې خپل تفصیلي نقطهٔ نظر بیان کړے دے خو هغهٔ کښې هم د سیاسي صبر او تحمل کمے ښکاري. بل اړخ ته کرزي طاقتورو افغانانو سره خپل تعلقات مضبوط کړي او هغوي سره ئې د وزارتونو او ګورنرو په حواله وعدې کړې دي. د مقامي تجارت کونکیو مطابق حامد کرزي په خپل دورِ حکومت کښې په ټېکسونو کښې کمے راوستلو او اولس ته ئې د نورو سهولتونو ورکولو په وجه په خپله کامیابۍ کښې اسانۍ پېدا کړې.

د افغان چېمبر آف کامرس له طرفه منعقده یو انتخابي تقریب کښې د تعمیراتو شعبې سره تړلي یوه شتمن شجاع ووئیل چې څومره کسان په دې تقریب کښې شامل دي، هغوي سره ډېر دولت دے چې د نن نه شپېتهٔ کاله وړاندې ورسره نهٔ وهٔ. هغوی ووئیل چې د کرزي حکومت د معیشت د ترقۍ دپاره ډېر کار کړے دے او د ملک چلولو قابلیت په هغوي کښې د نورو په نسبت زیات دے. خو حامد کرزي صبب هغه وخت خپلې پښې په خپله ووهلې چې هغهٔ د امریکې خلاف بیانونه ورکړل او د با اثره قبیلو خلق چې د منشیاتو په سمګلنګ کښې



شریک وو، د هغوي په رهایی ئې د حیرت اظهار وکړو.

د کرزي انتخابي او اتحادي ملېشې کمانډرانو هم د تعلیم یافته ووټرانو نوے نسل مایوسه کړو، څوک چې ملک کښې بدلون غواړي. د صدارتي هدایاتو باوجود د مقامي سرکاري حکامو خلاف دا شکایت دے چې هغوي د کرزي انتخابي مهم مضبوطولو دپاره سرکاري وسائل استعمالوي او مخالفینو ته دړکې ورکوي.

د اقوام متحده مشاورتي مشن او افغان انډیپنډنټ، حقوق بشر کمېشن په تېره شوې هفته کښې په یو مشترکه رپورټ کښې الزام لګولے دے چې هغوي ته په انتخابي مهم کښې د سرکاري مداخلت ډېر اطلاعات لاس ته ورغلي دي. د کمېشن د یو افسر نادر نادري مطابق کېدے شي چې صدر کرزے د دې واقعاتو نه خبر نۀ وي او مقامي حکام د صدر د خوښۍ حاصلولو دپاره په ذاتي توګه دا کار کوي.

کله چې حامد کرزي د شمالي افغانستان صوبه بلخ ګورنر محمد عطاء لرې کړو نو هغۀ دا اعلان کړے ؤ چې هغه به د کرزي د مخالف عبدالله عبدالله حمایت کوي. جنوبي افغانستان چې د کرزي انتخابي علاقه هم ده په هغې کښې پښتنه ابادی کښې تر اوسه د طالبانو ویره ده او اولس ته د دغې طالبانو له اړخه دړکې هم ورکولې شي. د دې نه علاوه د دې خبرې ویره هم شته چې جنوبي علاقه مثلاً قندهار وغېره کښې د الیکشن په ورځ د سیکیورټی باوجود د حملو کېدو له ویرې ووټران د کورونو نه بهر راونۀ وځي.

د ملک اتحادي علاقه د کرزي حمایت کوي چرته چې غېر ملکي امداد رسي او ملکي صورتحال ښۀ دے. د دې نه علاوه د کرزي طاقتورو اتحادیانو هزارۀ او اوزبکو نه هم د ووټ حاصلېدو توقع شته. دا وخت خلق ټي وي او رېډیو استعمالوي او سکولونو ته ځي چې هغوي خپل انفرادي حق ګڼي. بل خوا ته د کرزي طاقتور ملګري هم د دې خبرې ضمانت نۀ ورکوي چې هغوي به په اسانۍ سره کامیابي حاصله کړي.

